# THRIPS - تریپس

ONION THRIPS (*Thrips tabaci*), CITRUS THRIPS,
WESTERN FLOWER THRIPS (*Frankliniella occidentalis*)

د پیازو تریپس
د لویدز ګلانو تریپس



تریپس بچی او بالغه حشره د رنګ تفاوت یادداشت کړی



د تریپس د بچیانو تاوان چه د پیازو پانو ته یی اړولی دی

د ګلاب ګل چه ددی حشری له لاسه خراب شوی دی



نارنج چه د تریپس له لاسه متضرره شوی دی



د تریپس تاوان چه د کاهوپه پانو باندی وی



د تریپس ښکاری مایت



# تریپس THRIPS

**توضحات** : اکثرآ تریپس اوږدوالی له ۲ملی متره څخه زیات نوی.رنګ یی له سپین څخه ترژیړه،تیاره نصواری اوتور رنګه دی چه البته نوعی اود ژوند مرحلی پوری اړه لری. یوه نوعه یی ثابت ښکار کوی دا نوعه له د شیړو ټکو په شا باندی پیژندله کیږی. ځینی نوری هم ښکاری دی نو ګټه یی د پنبی په ګل باندی وی.

دا حشره د ودی په حال ګل او یا بوټی باندی تغزیه کوی نو رنګ او شکل ته یی تغیر ورکوی.همدارنګه دا حشره وایرس لیږدوی مثلآ په رومی بانجانو کی د مرض سبب ګرځی.

کله چه په ګلانو کی هګی واچوی نو ګل پاڼوباندی اثر اچوی.بټیتوی مرحله یی په خاورو کی دی.ځوانی حشری په لمړی پسرلی کی راوزی تر څو چه هګی واچوی.ددی حشری څو نسله په اوږی کی پیداکیږی

**تفتیش او نظارت** : کله چه تریپس په کل باندی حمله وکړی تاثیر یی کم خو برخلاف په پنبی او غله جاتو کی د زیات تعداد د تداوی وړ نده خو په شفتالو کی باید ددی حشری بالغه اوچنجی باید وکتل شی ګلان په یوه سپین کاغز باندی وښوروی،په نارنجو کی د ګل لاندی پاڼی وګوری. د مبارزی شروع په شفتالو کی ۵فیصده او نارنجو کی ۱۰فیصده ده همدارنګه د سپور نمونی د ټولولو په وخت کی اوګوری ترڅو چه کال ته تداوی وکړای شی.

په نوش پیازو او اوږه کی کله چه یوه حشره هم ولیدله شی باید دوا پاشی وشی. خو په کلچه یی پیازوکی په تصادفی ډول۲۰پیازه معاینه کړی او په لاسی عدسیه باندی پاڼی او د پیازو طبقی وګوری.دی مبارزی لپاره شروع لپاره ۳۰حشری په کار دی

**مخنیوی** : پرازیتی مچی هګیواوچنجیوباندی حمله کوی.ددی حشری دښمن عبارت ده له سپین رنګه چینجی،انتوکورید خټکی او نباتی مایتونه دی.

هغه حشره وژونکوته چهIPMاجازه ورکوی عبارت دی له سپینوسډ،سپینیټورم،ابامکټین اوپایرترین.

نیونیکوتیناید مثلآامیداکلوپرید به دی حشری ته مضروی کله چه دوا پاشی شی. پایتراید اوعضوی فاسفتونه اغیزمن دی خو ترIPMلاندی نه سپاریښت کیږی.